مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۴ / ۱۰ / ۰۲

# د خیبر جرګه

## د خیبر چیغه:

راز د بري ښکاري پښتنو ته په جرګو کې
دا دود به ژوندی وي تر ابده پښتنو کې
بوختسه تل د ستونزو په جرګو سره حل شوي ده
ځکه جرګه ځای لري ولسونو ته په زړو کې
اوس به خیبر خوښ وي چې شو بیا د تولېدو جوګه
لار د روښاني غورځنګ(۱) به لار شي پرګنو کې
روح د الایي او جلاله به شي الهام ولس ته (۲)
ودرېږي ولس به د منظور سره صفو کې
ورځې د جرګې خو پښتنو ته لکه جشن وي
درومی پښتنو دغي جرګې ته اتڼو کې
پرېږدی د جرګې خوښي يو داغ شي د دښمن په زړه
وتومبي ګلونه په ولونو د شملو کې
داسي جشن جوړ کړی چې پښتون نهيلي ختمه کړي
خره کړی فضا د اتڼونو په ګردو کې
وبخښی خوښي غمجن خیبر ته له پېریو بیا
روح د پیر روښان کړی خوښ په خپلو تصمیموکي
چیغه د یووالي او پاڅون له خیبر پورته کړی
ولړزوی غرونه، زلزلي شی په درو کې
وهم د توپان او یوه کړیکه د اسمان شی
وغورځوی تندر د پنجاب په بنګالو کې
قار د سمندر او څونامي د سمندر شی
ډوبه واکمني د پنجابي کړی په څپو کې
جوړ هسي محشر کړی چې پنجاب له خیبر وتښتي
پاتي یي قصي شي ماشومانو ته درسو کې
کوڼ کړی پنجابی د پښتنو او سيمي لوی دښمن
وغرمبیږی شېرغوندې په خپلو سپیکرو کې
ویښ کړی پښتانه، دا په پېړی پېړی ویده ملت
تللي چې خوشال او پاچاخان دی تریږ ګیلو کې
وڅېړی په غور د پښتون دا بدبختي لویه
ښکېل چې په پېړیو دی په جنګ او تربګنو کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وکاږی سره لیکه پنجابي ته په روښان دریځ
واخلی واکمني ترې له اټکه په لاسو کې
ځاله د پنجاب د واکمنی له خیبر ایسته کړی
جیګ کړی خپل بیرغ د خپلواکی په سردرو کې
کرښه د ډیورنډ د ښلتانه هم دړې وړې کړی
ړنګه یي اعلان کړی د جرګې په فیصلو کې
تو کړی یو لعنت بیا د انګریز په تېر پلیت سیاست
خوار یي چې پښتون کړ، پنجابي واکمنېدو کې
ویښ اوسی، بیدار اوسی حالات ساتی تر ځار لاندې
بوخت به پنجابی وي دې جرګې ته په توطیو کې
یاد د ګیله من وزیر په زړونو کې مدام ساتی
سر یي نذرانه کړ د خپل ولس په ارمانو کې
**هیلي د پښتون دغي جرګې سره تړلي دي**
**روح د بابا ګانو منتظر دی هدېرو کې**
ښاده بریالی دې وي، خیبر دا تاریخي جرګه
کاشکې چې حاضر یي مرادزی وای په جلسو کې
**یادوونه:**
(۱) د پیر روښان غورځنګ ته اشاره ده چې د هند مغلو د واکمنی په وړاندې یي پښتنو ته د خپلواک هېواد لپاره مبارزه کوله.
(۲) جلاله همغه میرنی جلال الدین د پیر روښان زوی دی چې د پلار په لار یي د روښاني غورځنګ بیرغ له خیبره نبولي په ټوله پښتونخوا کې رپانده وساته. نوموړي ته د جلاله خطاب د مغلو د هغه مهال پاچا، جلال الدین اکبر کاوه. خیبر او تیرا د دې غورځنګ مشهور ځایونه ول.
اغلي الایي د جلال الدین لور او د پیر روښان لمسی وه چې خپل میړه حداد سره د مغولو پر ضد په مبارزه کې تر پایه یوځای وه.
د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر ۲ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ